مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۱۲/۰۲

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### دریمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب ځو پرله پسې لیکنې خپرې کړې. ځینو دوستانو راڅخه وغوښتل چې که دا موضوع یو څه پسې پراخه سي، ښايي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نېستي کې مې دا ځېرنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکني او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات ووینې، د مهرباني له مخې دې د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دې وبخښي.**

م. هوتک

## دوهم فصل

## صدراعظم

## سید نورمحمد شاه پښینی کندهاری

## (لوی تول مختار)

### کورنۍ او ټبر ئې:

د افغانستان لومړنی صدراعظم او هوښیار سیاسي شخصیت سید نور محمد شاه کندهاری د سید سلیمان شاه زوی د سید بیګ محمد شاه (سید بیګي شاه) لمسی،د سید موسی کړوسی وو چې د نسب بشپړه سلسله او تفصیلي معلومات به ئې په دریم فصل کې ولولئ.

د سید نورمحمد شاه نیکه سید بیګ محمد شاه درې زامن درلودل چې سید سلیمان شاه، سید زمان شاه او سید حسین شاه نومېدل. د پښین د ساداتو تولي لویي کورنی همدې درو تنو نیکه ګانو ته رسیږي. د سید سلیمان شاه لس زامن پاته سوي ول چې پنځه ئې په کندهار کې اوسېدل او د " کندهاري ورونو" په نامه یادېدل او پنځه ئې د پښین استوګن ول چې" پښیني ورونه" ئې بلل. په کندهاري ورونو کې سید نورمحمد شاه، سید ګل محمد شاه، سید احمد شاه، سید امان الله شاه او سید بیګ شاه شامل ول.
د سید نورمحمد شاه پلار سید سلیمان شاه د کندهار په محکمه کې په یوه شرعي اقرار خط ( قباله) کې خپل د پښین او کندهار جایداد خپلو لسو زامنو ته ورکړی دئ. په دې شرعي سند کې داسې راغلي دي:

"در تاریخ شانزدهم شهر ذیقعده ۱۲۵۹ یکهزار دو صد و پنجا و نُه بود از هجرت حضرت رسالت صلی الله علیه و آله وسلم، که اقرار معتبر صحیح شرعی نمود، مخبر اسم و نسب خود سلیمان شاه بن سید بیګ محمدشاه بن سید موسی خان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

و چنین مقرر گردید که از جمله محدودات مذکورات مافوق آنچه در حصهٔ خریدهٔ خود در تصرف من سید سلیمان شاه بود، بدین تفصیل ذیلیهٔ ماتحت، از جملهٔ هجده سهم آب و اراضی قنات گلستان یک سهم مشاع و از جملهٔ شانزده سهم آب و اراضی قنات ارنی دو سهم مشاع از جملهٔ هجده سهم قناعت مزری پنج سهم مشاع، و از جملهٔ بیست کِله زمین کاکازائی دو مشاع سهم و نصف و قطعهٔ زمین بورشاه، و قطعه های زمین خشک آبهٔ مذکوره همگی و تمامی مشاع بده نفر پسران خود، که پنج نفر ساکنان فوشنج است: یوسف و سید کریمداد و سید صاحبداد و سید رحمت الله و سید یارمحمد (۲۴) و پنج نفر ساکنان قندهار اند: سید نورمحمدشاه و سید گل محمدشاه و سید احمدشاه و سید امان الله و سید بیگ، بصیغهٔ تملیک دادم، که آب و اراضی مذکوره نصفه از پسران فوشنج سید یوسف و دیگر چهار پسر، و نصفه از پسران قندهار سید نورمحمدشاه و دیگر چهار پسر میباشد. که هر ده نفر مذکوره باهم در حق آب و اراضی مذکوره شرکای متساوی هستند. و جمله آب مذکوره و اراضی مذکوره در قبض و تصرف تملیکی ولدان مذکوران سپردم، که من بعد باملاک مذکوره مافوق من بخود هیچ دخلی ندارم و نخواهم نمود..."
د دوی کورنۍ له پېړیو راهیسي د پښین د ساداتو مشري پر غاړه لري او د افغانستان له مرکزي او محلي دولتو سره ئې هم منظم ارتباطات او اړیکي لرلي دي.



سید نورمحمد شاه پښیني کندهاری

د سید زمانشاه دوه زامن پاته سول:

ــ سید تاج محمد شاه،

ــ او سید پاینده شاه.

په دوی کي سید تاج محمد شاه د کندهار له سردارانو سره ښېښي هم درلوده یوه مېرمن د سردار مهردل خان مشرقي (۲۵) لور بي بي کشور سلطان وه. سید تاج محمد شاه د کندهار ښار د بارکزو په کوڅه کي د سردار مهردل خان کورته نژدې اوسېدی چي تفصیل به ئې وروسته راسي.
د سید تاج محمد شاه زوی سید عطاء محمد شاه الحسیني قندهاري د افغانستان مشهور خطاط او د نستعلیق خط استاد وو د امیر شیر علیخان د لومړي وار پاچهی په وروستي کال کي سید نورمحمد شاه د پښین او کندهار د ساداتو د قومي مشر او کلانتر په توګه ټاکل سوی وو. په هغه فرمان کي چي پردغه دنده باندي د تقرر له اسیته صادر سوی دئ، داسي راغلي دي:

**حکم سرکار اشرف همایون والا شد اینکه:**

عالیجاه عزت دستگاه سید نورمحمد شاه ولد سیادت پناه سید سلیمان شاه مرحوم که از آبا و اجداد معتبر و کلانتر و ملک قوم خود و کل طوائف سادات پشین بود، چونکه سید موصوف قابل و لایق میباشد لهذا از حضور لامع النور سرکار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

والا نیز چنان مقرر گردید، که سیادت پناه موصوف بر منزلهٔ سابقهٔ کلانتر و ملک قوم سادات پشین باشد و لازم که جمله سادات اکابر پشین و مقیمان اطراف قندهار سید موصوف را کلانتر خود دانسته و از امر و صلاح مشار الیه تجاوز و انحراف نورزند، که جمیع خیر وشر دیوانی سادات تعلق به سید موصوف دارد و تخلف و انحراف از امر و صلاح کلانتر باعث نقصان کلی خواهد بود و علی الدوام سید موصوف ساعی و متوجه خیر اندیشی قوم سادات باشند، از ایشان تماماً پاس اعزاز و اکرام کلانی بجا آورده بی اتفاقی نورزند تاکید دانید، تحریر ۲۹ ربیع الثانی سنه ۱۲۸۲هـ (محل مهر امیر شیرعلی خان) (۲۶)

د سید نور محمد شاه کندهاري نوم او په سیاست کې د هغه رول د امیر شیر علیخان د پاچهی پر وخت زیات را څرګند سو، خو دده په باب موږ تر دغه عصر پخوا هم د افغانستان له پاچهانو په تېره بیا د کندهار له حکمرانانو سره دده د اړیکو پر یادوَنو پېښېږو.

د پښین د ساداتو دغه کورنۍ له احمد شاهي عصر څخه له افغاني پاچهانو سره محشوره کورنۍ وه. لوی احمد شاه بابا د کندهار د اوسني ښار د تاداو د لومړی ښتي د اېښوولو له پاره له پښین څخه دوه وروڼه سید ابدال او سید سیدال اغا د اشرف الوزراء شاولیخان بامیزي په غوښتنه راوغوښتل. ددوی بیان به وروسته ولولئ.

دغه راز د پښین له ساداتو څخه یو تن سید خداداد د سدوزي تیمور شاه او شاه زمان معاصر وو او د ۱۲۰۸ ـ ۱۲۰۹ هـ ق کلونو په پېښو کې ئې یادونه سوې ده.

د سراج التواریخ مؤلف فیض محمد کاتب لیکلي دي:

کله چې د بلوچستان واکمن نصیر خان بلوڅ وفات سو، وراره ئي ته ئي د واکمنی هوا ور ولاړه سوه او غوښتل ئي چي د نصیر خان یوازنی زوی محمود له بلوچستان څخه وباسي او خپله د ریاست پر مقام کښېني. دغه راز ئي غوښتل د شاه زمان سدوزي ورور همایون چي په دغه وخت کي بلوچستان ته تښتېدلی وو، د خپل ورور شاه زمان پر خلاف وپاروي.دا خبر چي په کابل کي د اعلیحضرت شاه زمان سدوزي تر غوږو ورسېد، سمدلاسه ئي اشرف الوزراء حافظ شیرمحمد خان ته امر وکړ چي پر بلوچستان باندي لښکر ور وباسي. له دغه لښکر سره سید خداداد فوشنجي چي د سیمي د خلکو د درناوي وړ اعلی نسبه شخصیت وو، هم ملګری کړ. اشرف الوزراء او سید خداداد بلوچستان ته ولاړل . خو سید خداداد په بلوچستان کي له همایون سره جوړ سو او کندهار ئي ونیو او ځان ئي پاچا اعلان کړ.

په هغه جګړه کي چي د همایون او د شاه زمان د پلوي سردار احمد خان نورزي تر منځ د کندهار ښار په لویدیځ د کوکران په سیمه وسوه، سید خداداد د همایون په طرفداري وجنګېد او تپي سو...(۲۷)

اروانښاد عزیزالدین وکیلي وایي چي " بعضی مورخان طوری وانمود کرده اند که آن خاندان در عهد امیر عبدالرحمن خان بکابل نقل مکان نموده اند ولی از زمان سید خداداد وارد کابل شده اند چنانچه سید زمانشاه به تنور سازی کابل مسکن داشت."(۲۸)

ترجمه: ځینو مورخینو داسي ښوولي ده چي دغه کورنۍ د امیر عبدالرحمن خان په وخت کابل ته رانقل سوې ده خو دا کورنۍ د سید خداداد له وختو راهیسي کابل ته راغلې ده او سید زمانشاه په تنورسازۍ (۲۹) کي اوسېد.

په انګلیسي منابعو کي (Lumsden of the Guides) هغه کتاب دئ چي د سید نورمحمد شاه کندهاري یادونه لري . دا کتاب د برتانوي تورنجنرال لمسډن - Sir Harry Burnett Lumsden ( 1821-1896)- (۳۰) د هغو لیکونو له مخي چي خپلي کورنۍ او دوستانو ته ئي لیکلي ول دده د کشر ورور جنرال پیټر لمسډن(Gen. Sir Peter S.Lumsden) او جورج ایزمي (George R. Eismie)په همکارۍ لیکل سوی او په ۱۸۹۹م کال په لندن کي چاپ سوی دئ. دوهم وار بیا په لندن کي د ۱۹۰۰م کال په فبروري کي چاپ سو.ددغه کتاب د دوهم چاپ په ۱۵۸ مخ کي کښلي دي چي تورنجنرال لمسډن د ۱۸۵۷م کال په اپریل کي کندهار ته د سفر پر وخت له نورمحمد اخندزاده سره کتلي ول. د لمسډن د سفر پر وخت د کندهار حکمران د امیردوست محمد خان ځلرم زوی او ولیعهد سردار غلام حیدر خان (۱۲۳۵ ـ ۱۲۷۴هـ ق)وو.

د کتاب خپل روایت داسي دئ:

ترجمه : په دغه وخت لمسډن یوازي له داسي کسانو څخه معلومات تر لاسه کولای سوای چي غلام حیدر خان به خپل حضور ته د ورتګ اجازه ورکوله ... په دغو کسانو کي یو ډېر دلچسپ سړی اخند زاده نورمحمد وو. دی سید وو چي پخوا د خدای بخښلي کندهاري سردار کندلخان له خواتهران ته دده د معتمدنماینده په توګه له یوه هیئت سره ټاکل سوی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

وو. نورمحمد یو ډېر ځیرک سړی وو او فوق العاده معلومات ئي درلودل. ده کلکتې، مدراس، بمبئي ته سفرونه کړي ول او داسي پیاوړې حافظه ئي وه چي هر څه لیدلي او کتلي ئي ټول په حافظه کي خوندي ول. لمسۍ د نورمحمد له خولي پوه سو چي مرحوم سردار کندلخان کله چي د هرات په ګډون ئي پر کندهار باندي مستقله حکمراني ټینګه وه، له انګرېزي حکومت سره ئي د زړه له کومي خواخوږي درلوده. مګر کله چي د هغوی له خوا دده غوښتنه رد سوه، ده ته بله لار پاته نه وه بې له دې چي د تهران غېږي ته ځان واچوي او د کابل له خوړلو ځان وژغوري. په همدې نظر ئي په لومړي سر کي خپل زوی او ورپسي ئي نور محمد خان د شاه دربار ته واستاوه او هوري ئي تود هرکلي وسو. ددغه هیئت اساسي مقصد دا وو چي په پارس دا خبره تصدیق کاندي چي هرات او سیستان د کندهار سیمي دي."

دغه بحث ته د کتاب مولفینو په حاشیه کي کښلي دي چي " ترجمه : تر دې وروسته نورمحمد خان د امیر شیرعلیخان له خوا له لیویس پیلي (Sir Lewis Pelly) سره د ملاقات له پاره د پېښور کنفرانس ته وټاکل سو او نورمحمد خان د کنفرانس تر پای ته رسېدو مخکي په پېښور کي وفات سو."

له دې بیانه خو داسي ښکاري چي د سردار غلام حیدر خان په درباریانو کي شامل نورمحمد اخندزاده او د امیر شیرعلیخان له خوا د پېښور کنفرانس ته ټاکل سوی نماینده یعني سید نورمحمد شاه صدراعظم باید یو سړی وي.

د سردار غلام حیدر خان ولیعهد په درباریانو کي د سید نورمحمد شاه د موجودیت نور شواهد هم سته چي وروسته به ئي ولولئ ، خو تهران ته د کندلخان له خوا د نماینده په توګه د سید د استولو خبره د لمسۍ ددغه غیر مستقیم روایت پرته زما بل ځای تر سترګو سوې نه ده، ځکه نو یقین ته په نزدې ګومان ویلای سم چي د لمسۍ له خوا یاد سوی نورمحمد اخندزاده به سید نورمحمد شاه نه وي او هغه به د ګلشن امارت مؤلف مولوي نورمحمد نوري وي. مولوي نوري د امیر شیرعلیخان له ډېرو نزدې درباریانو څخه وو او دغه صفات ئي ټول درلودل چي د لمسۍ په کتاب کي د اخندزاده نورمحمد په باب بیان سوي دي. .زما (هوتک) سره یو لړ نور داسي دلایل هم سته چي دا دوه تنه نورمحمد نامي دوه بېل کسان دي.(۳۱)

د سردار غلام حیدر خان په دربار‌یانو کي د سید نورمحمد شاه د موجودیت یوه قوي دلیل دادئ چي سید هغه وخت د سردار غلام حیدر خان د زوی سردار محمد اسماعیل خان د نائب په توګه ټاکل سوی وو چي امیر دوست محمد خان د هرات د نیولو په نیامت خپل زوی سردار غلام حیدر خان له ځان سره په لښکر کي ملګری کړ او د کندهار حکمراني ئي دده زوی سردار محمد اسماعیل خان ته موقتاً ورکړه.(۳۲)
دسید نورمحمد شاه په کورنی کي دده د کړوسي سید عبداللطیف په ساتل سوو اسناد‌و کي د سردارکندل خان یومکتوب سته چي د سید نورمحمد شاه په نامه ئي د یوې تجارتي موضوع په باب کښلی دئ او په هغه کي ئي لیکلي دي:

"سیادت پناه نجابت دستگاه سید نورمحمد شاه قریب صحت باشد.

در خصوص شال و ابره هایی که از ارجمندی سردار غلام محی الدین خان (۳۳) ابتیاع نموده بشما سپرده ایم، شما از جانب بندگان عالی وکیل اید، که در طهران قیمت آنرا بخود مشخص نمایید، به هر قیمتی که مشخص شد، بقدر قیمت آن از وجه سرکار هر فرمایشی که عالیجاه ارجمند مشار الیه بشما سیاهه بدهد، بقرار سیاهۀ ایشان فرمایشات مذکور را گرفته بیارید.

درینخصوص ضرور تاکید نیست، شما مختارید. فی ۸ رجب المرجب ۱۲۷۱(۳۴)
مکرر آنکه ابره هشت طاقه است و خلیل خانی سیزده طاقه میباشد. تحریر فی شهر مذکور ۱۲۷۱".
(مهر کهندل بر پشت مکتوب)

له دې مکتوب څخه داسي ښکاري چي سید نورمحمد شاه په ۱۲۷۱ هـ ق =۷۴- ۱۸۵۵ع کي د کندهار له حکمران سردار کندلخان سره محشور وو په دغه وخت کي په تهران کي وو.

له امکانه لیري نه ده چي جنرال لمسډن انګرېز ته به ددغه تجارتي عام و تام وکالت خبره د کوم چا پر لاس رسېدلې وي او ده به د سیاسي نماینده برداشت څني کړی وي.

پر کندهار باندي د سردار محمد امین خان د حکمرانی پر وخت دده له خوا د خرقې شریفي د متولیانو په باب یوه " حکمنامه" د ناظر امیر محمد خان په نامه د ۱۲۷۷هـ ق د ربیع الثانی په میاشت کي صادره سوې ده .ددغي حکمنامي پر شا باندي درې مُهرونه لګېدلي دي چي یو ئي د سید نورمحمد مُهر دئ (۳۵).
دغه سید نورمحمد به په غالب ګمان زموږ تر بحث لاندي سید نورمحمد شاه وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

**د دریمي برخي لمنلیکونه:**

۲۴ـ په پښنین ناوه کي د سید یارو کاریز او کوړک او کویټي تر منځ د رېل تمځای دده په نامه دئ.
۲۵ـ دا کال د امیر شیرعلیخان د لومړي امارت وروستی کال = ۱۸۶۵م دئ.
۲۶ـ سردار مهردل خان مشرقي ( ۱۷۹۷ـ ۱۸۵۵م) د سردار پاینده خان زوی او په کندهاري سردارانو کي تر ټولو کشر ورور،عالم، د فارسي او پښتو ژبو شاعر او صوفي مشربه سړی وو. شعري مجموعه ( فارسي) ئې ما چاپ ته تیاره کړي ده ، خو تر اوسه ( ۱۳۹۹ش) لا چاپ سوي نه ده. ( م.هـ)
۲۷ـ سراج التواریخ ، جلد اول، صـ ۶۵ ، ۶۶ ـ چاپ ۱۳۷۲ش
۲۸ـ وکیلی، عزیزالدین، هنر خط در .... صـ ۳۸ حاشیه ۱
۲۹ـ د تنور سازی کوڅه د کابل ښار د شهرآراء په سیمه ډېره پخوانی کوڅه ده.
۳۰ـ تورنجنرال هاري لمسډن د ایسټ اندیا په یوه کښتی کي چي (Rose) نومېدله زیږېدلی دئ. د وړکتوب لومړي شپږ کاله ئي په پنجاب کي تېر کړي دي. پلار ئي هوري منصبدار وو.پلار ئي خپل دغه زوی سکاټلینډ ته ولېږه. په ۱۶کلني کي بیرته هند ته راغی او په ۱۸۵۷م کي په یوه هیئت کي کندهار ته راغی.
ډاکټر بیلیو (H. W. Bellew) چي له هاري لمسډن سره په دغه سفر کي ملګری وو، د خپل کتاب ( Journal of A Political Mission to Afghanistan in 1857) په ۲۱۲ او ۲۱۹ مخونو کي د لمسدن سره د مېجر (Major) رتبه لیکي او له دې عبارت څخه څرګندېږي چي کندهار ته د سفر پر وخت د هاري لمسډن پوځي رتبه برید جنرالي وه.
۳۱ـ په دې باب ما یوه مقاله په فارسي ژبه کښلې ده چي په افغان جرمن ویبپاڼه کي د ۲۰۲۰ع کال د سپټمبر پر دېرشمه خپره سوه او اوس هم ددغي ویبپاڼي په آرشیف کي خوندي ده. محترم لوستونکي ئې هوری کتلای سي.
۳۲ـ سراج التواریخ ، جلد دوم، صـ ۶۸ چاپ ۱۳۷۲ش، انتشارات بلخ
۳۳ـ سردار غلام محی الدین خان د سردار کندل خان زوی وو. علامه عبدالحي حبیبي دغه مکتوب ته په حاشیه کي کښلي دي چي سردار غلام محی الدین خان په سیوی کي جاګیر درلود. ( آریانا مجله ، ۱۳۴۸ش کال، د اسد سنبلي ګڼه، ۴ مخ)
۳۴ـ د ۱۲۷۱هـ ق کال د رجب میاشت د ۱۸۵۵ع کال د مارچ له میاشتي سره مصادفه ده.
۳۵ـ وګ : وکیلی پوپلزائی ـ تاریخ خرقهٔ شریف قندهار، ص ۱۴۱ ،چاپ ۱۳۶۷ش کابل


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځیر و لولئ